# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



فرهاد ویاړ

۱۵/۰۶/۱۰

## «دا ملا د سیاسي اقتصاد یوه مجسمه جزوه ده!»

د نړی په کارګري غورځنګ او په تیره بیا د زبیښاک په وړاندي مبارزه کي د داسي اتلو ځیرو سره مخامخ کیږو چي د اتلوالی برم او پرتم یي هومره پر انسان اغیزه کوي چي د کلونو کلونو په تیریدو بیا هم دی ته هڅول کیږو چي دی ډول مبارزو انسانانو او کارګرانو ته د درناوي سر ټیټ کړو او د هغوی له مبارزي او سیاسي دریځ څخه د تګلاري په توګه کټه واخلو.

له دي تلپاتی ځیرو څخه یوه هم، مری جونز ده. مري جونز، په ۱۸۳۰ کال کي په ایرلنډ کي وزیږیده.

د ۱۸۳۰ او ۱۸۴۰ کلونو تر منځ هر کال، شل زره وزګارو او وږو خپل هیوادونه پریښودل، د همدي وږو او بیوزلو کورنی په منځ کي یوه یي هم د مری جونز کورنی وه. مري جونز، پنځه کلنه وه چي د بیړی په وسیله امریکا ته مهاجره شوه او د اوږدي لاري شاته په پریښودلو سره د بیوزلی له واقعي مانا سره آشنا شوه او د استثمار کیدونکو په کتار کي ودریدله او د امریکا په شتمنو کورونو کي یي خیاطي پیل کړه.

د شتمنو په کورونو کي د خیاطی سره، مري جونز له نژدي څخه د کارګرې او زیارکښي طبقي د ژوند سره آشنا کیږي. هغه په خپلو سترګو ژوره تولنیزه بی عدالتي او زبیښاك ویني، خو دا یو الهي کار نه بولي او هڅه کوي چي د دي لامل او له زبیښاك څخه د خلاصون لاره پیدا کړي. همدا دی چي خیاطي او خپل ایالت پریږدي او هر چیرې چي زبیښاک ناتار پیل کړي وي او بی شیمره بیوزله خلك سره راغونډ شوي وي همله ورځي او د خلکو له دردونو سره نه یوازي چي نه نهیلي کیږي، بلکي ځواك او توان مومي.

د ۱۹۸۷ کال د جولای په شلمه، لوموند، د مری جونز په اړه ولیکل: «مری جونز، په حقیقت کي، د اعتصابي معدنچیانو د زړورتیا مور ده. یوځل چي د اعتصابیونو لوري ته د پولیسو لخوا د ټوپك شیپلی نیول شوه وه، مري جونز هغه په کلکه نیسي او چیغه وهي:«ګرانه ښاغلیه! دا زما د طبقي خلک دي چي د کان تر بیخه پوري تللي دي او دا اوسپنه چي ترې ټوپک جوړ شوی، راویستلی ده. نو، دا ټوپک زما دی!»

او همدا ډول یو ځلي د کنګرې یوه استازي له مري جونز پوښتي وي چي کور یي چیري دی، دي زړوري کارګرې داسي ځواب ورکولی و: «زه په امریکا کي میشته یمه، که رښتیا یي وپوښتی نه پوهیږم چي د امریکا په کوم ځای کي. هر چیرې چي د زبیښاک څخه د خلاصون لپاره مبارزه پیل شوي وي، زما کور همله دی، یعني کله په

واشنګټن کې، کله په پنسیلوانا کې، کله په اریزونا یا تکزاس یا مینه سوتا یا کلرادو کې. په رښتیا، زما کور زما د موزې د تل په شان دی: له ځان سره یې دې خوا او هغه خوا کاږم.»

مري جونز، چې د کوچني کارګرانو سره چې عمرونه یې د شپږو او اتو کلونو تر منځ و، ژوند کاوه، ښه پوهیده چې د دې ماشومانو د ماتې شویو ملاګانو تر شا، طبقاتي قهر او قاطعیت پټ دی. مري جونز دا کوچني کارګران – انجونو او هلکان - بسیجوي چې د عمومي افکارو لپاره د خطر زنګ ووهي. هغه دا ماشومان له ځان سره بیلابیلو میټینګونو، غونډو، ناستو او ویناګانو ته بیايي او د پانګوالو د زبېښناک د ښه بیلګې په توګه د دې ماشومانو په ښودلو سره وجدانونه ځوروي. د ساري په توګه هغې د پرینستون په پوهنتون کې په داسې حال کې چې یو لس کلن کارګر یې ګډونوالو ته ښودو چې «ملا یې د تارونو د ۳۷/۵ کیلویی بستو له وړلو څخه لکه د سپین ږیرو په شان کړوپه شوی وه» داسې وایي: «دا ملا د سیاسي اقتصاد یو مجسمه جزوه ده!»

مري جونز، چې د مور جونز په نامه هم پیژندل کیږي، په شیکاګو کې د مې د لومړي ورځ له وتلي څیرو څخه وه او په دې غورځنګ کې ډیره زیاته ونډه لرله چې نوموړی ورته د خپلو خاطراتو په کتاب کې په ښه توګه اشاره کړی ده.